# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۳۲مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۶مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۸/۲۹



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د ایران او منځنۍ اسیا له لارې د افغانستان د سوداګرۍ زیاتوالی

۲- د اریانا افغان هوایي شرکت له لوري هند ته د توکو د لېږد رالېږد د نویو بیو اعلان

۳- د تره خیل حرارتي برېښنا فعالېدل

## د ایران او منځنۍ اسیا له لارې د افغانستان د سوداګرۍ زیاتوالی



د افغانســتان اسلامي امارت غوارې چې د پاکســتاني لارو پــر ځــای د افغانســتان ســوداګرۍ او ترانزیټ له پاره بدیلو لارو ته پراختیا ورکړي. څو له یوې خوا افغان بزګر او ســوداګر له زیانونو څخه وساتي او له بل لوري د صادراتــو او وارداتو بهیــر او افغان بازارونــه د خوراکي او نــورو توکو له کمښت څخه وساتي. ترټولو مهمه دا چې د یو شــمېر بې کیفیته توکو د واردولو مخه هم ونیول شي.

افغانســتان که څه هم په وچه کې پروت هېــواد او بحر ته مســتقیم لاســرسی نه لري، خو له دغــه وضعیت او پر یوه هېواد لــه تکیې څخه د ځان ژغورلــو ډېرې نورې لارې لري. د پاکستاني لارو پر ځای ایران او منځنۍ اسیا د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ له پاره مهمې او له ستونزو خلاصې بدیلې لارې دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویلي، اوسمهال د ایران او منځنــۍ اســیا لــه لارې د افغانســتان سوداګرۍ کې زیاتوالی راغلی دی.

پاکســتان ســره د ســوداګرۍ په تــړاو د افغانســتان اسلامي امــارت له وروســتي دریځ څخه افغان ســوداګرو ملاتړ کړی او غــوارې چې د توکــو د لېږد رالېــږد له پاره داســې لارې انتخــاب کړي، چــې نه یې د بندیدو اندېښــنه وي او هــم له دې څخه ځان خلاص کړي چــې څوک یې پروړاندې له ســوداګرۍ څخه د ســیاسي فشــار د وسیلې په توګه کار واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې له ایران، د منځنۍ اســیا هېوادونو او هند سره پراخې ســوداګریزې اړیکې او هوکړې ولري، څو افغان ســوداګر وکولی شي چې په اسانه توګه خپل توکي هغو هېوادونو ته صادر کړي او له هغه ځایه واردات ولري او له دې هېوادونو څخــه د ترانزیتي لارې په توګه استفاده وکړي.

## د اریانا افغان هوایي شــرکت لــه لوري هند ته د توکو د لېــږد رالېږد د نویو بیو اعلان



د اریانــا افغان هوایي شــرکت اعلان کړی چې هند ته به د افغانستان صادراتي توکي کیلــو په یو ډالروړي او لــه هغې خوا به یو کیلو واردات په ۸۰ سینټه وکړي.

دا ګام وروســته له هغــه پورته کېږي چې پاکســتان د افغانســتان د ســوداګرۍ او ترانزیټ پرمــخ لارې وتړلــې. دا پرېکړه د افغــان ســوداګرو او د هېــواد د اقتصاد د ملاتړ په موخه شوې ده.

افغان ســوداګر هند ته وچــه او تازه مېوه، قالینې، زعفران او داسې نور صادروي او له هغه لوري درمــل او ځینې نور توکي هېواد ته واردوي.

یاد امارتي شرکت د ریاست الوزراء

اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هدایت پر بنسټ دغه ګام پورته کړ. تمه کېږي چې اریانا افغان هوايي شرکت به په نږدې راتلونکي کې کارګو الوتکې ویپري او په دې سره به د هېواد د بزګرانو حاصلات د نړۍ ډېرو هېوادونو ته ورسېږي.

د افغانستان اسلامي امارت تل د خپلو هېوادوالو ترڅنګ ولاړ دی او په سخت وخت کې د خپلو بزګرانو او سوداګرو لاسنیوی کوي او هر راز اسانتیاوې ورته برابروي.

# د تره خېل حرارتي برېښنا فعالېدل

د افغانستان برېښنا شرکت مسوولینو د هدایت پر اساس په کابل کې د تره خېل حرارتي برېښنا دستګاه بیا فعاله شوې ده. د تره خېل حرارتي برېښنا دستګاه ۱۰۵ مېګاواټه برېښنا تولیدوي، چې د برېښنا د کمښت په صورت کې فعالېږي، څو هېوادوال د برېښنا د پرچاوی له ډېر اغېز څخه لرې وساتل شي.

افغانستان اوسمهال له ځینو ګاونډیو هېوادونو یوه اندازه برېښنا اخلي، خو ځیني وخت د یو شمېر لاملونو له امله کموالی مومي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې په هېواد کې د برېښنا ستونزه په تدریجي ډول راکمه کړي او د دې له پاره یې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې له اوبو، لمر او ګازو څخه د برېښنا د تولید ګڼې پروژې پیل کړې دي، چې په بشپړېدو سره به یې هم په هېواد کې صنعتي وده ګړندۍ او هم به هېوادوال د برېښنا له پرچاوی څخه خلاص شي.

